**بسم الله الرحمن الرحيم**

**اې مسلمانانو... اې اسلامي پوځونو... الاقصی ستاسو له پوځونو مرسته غواړي**

**ايا په تاسو کې کوم صلاح الدين شته؟ ايا کوم صلاح الدين شته؟**




(ژباړه)

اې مسلمانانو... اې اسلامي پوځونو! دا پر مسلمانانو د الاقصی غږ دی؛ دا ناره اسلامي پوځونو ته ده... ايا تاسو به يې غږ واورئ؟ .... ايا ځواب به ورکړئ؟ ... ايا تاسو راځئ؟

**ځواب ورکړئ اې افسرانو او سرتېرو... ځواب ورکړئ؛ اې نېکو خلکو! ايا په تاسو کې کوم صلاح الدين شته؟**

اشغالي ځواکونه شپه او ورځ الاقصی ته سپکاوی کوی... هلته د لمانځه او اذان مخنيوی کوي... مسلمانانو د سجدې او رکوع په حالت کې په شهادت رسوي... ايا تاسو تسليم شوی ياست!!؟ ايا تاسو مخ ترې اړوئ!!؟ **نه، قسم پر الله، موږ باور لرو چې تاسو به ملاتړ ترې وکړئ.**

يهودان د الاقصی انګړ ته سپکاوی کوي او خپل شيطاني عبادتونه او رواجونه پکې کوي، ايا تاسو به يې ورته پرېږدئ؟ **نه، قسم په الله، موږ باور لرو چې تاسو به يې ازاد کړئ.**

**څه ته انتظار کوئ؟ د الله لپاره موږ ته ځواب را کړئ... ځواب راکړئ، الله دې رحم درباندې وکړي...**

ايا تاسې امريکا او روسيې ته په تمه ياست، هغو ته، چې زموږ د مسلمانانو وينې تويوي او ځمکې مو ويجاړوي، که سلمان، عبدالله، سيسي او نواز ته په تمه ياست، هغو خاينو او ظالمو چارواکو ته چې خپلو ځواکونو او الوتکو

ته د الله سبحانه وتعالی له دښمنانو سره له مرستې پرته، تر څو د مسلمانانو وینې پرې تویې کړي، بل څه ته اجازه نه ورکوي؟

**اې د ټولې نړۍ مسمانانو:**

که د دغو رژیمونو د خیانت او بې غیرتي پایله نه وی، یهودانو به هېڅکله د الاقصی پر سپیڅلي جومات د یرغل جرئت نه وی کړی. دوی به هېڅکله جرئت نه وی کړی چې فلسطین اشغال کړي، په خلکو یې ظلم وکړي او یا هم الاقصی ته سپکاوی وکړي. که اسلام حاکم وای، مسلمانان وېشل شوي نه وای او خلافت مو له لاسه نه وی ورکړی؛ نو نن به یهودانو دغه سپېڅلې خاوره د څو لسیزو لپاره نه وی اشغال کړې او خلک به یې نشوی وژلی، د دوی سپکاوی به یې نه ورته کاوه.

اې زموږ ورونو... اې موږ ته گرانو... موږ به په تاسې ته تر هغه نارې وهو، تر څو ستاسو زړونه نرم شي... موږ له سپکو، خاینو او لاسپوڅو حکامو څخه غوښتنه نه کوو، موږ پر تاسو غږ کوو او تاسو ته خطاب کوو، ځکه چې تاسو زموږ ورونه یاست او تاسو ته هیله لرو.

اې ورونو! ایا د دې وخت نه دی رارسېدلی، چې د الله سبحانه وتعالی په ذکر خپل زړونه پاک او د هغه امر ته غاړه کېږدئ؟

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ﴾ (توبه: ٣٨)**

*اې مومنانو! په تاسې څه شوي دي چې کله تاسې ته د الله سبحانه وتعالی په لار کې د وتلو لپاره وویل شي، نو تاسې په ځمکه درانه کښېنئ؟ ایا تاسې د اخرت پر ژوند د دنیا ژوند ته غوره والی ورکوئ؟ که داسې وي، نو تاسې ته دې معلومه وي چې د دنیاوي ژوندانه دا ټول وسایل به په اخرت کې ډېر لږ راووځي.*

ایا هغه وخت یې نه دی را رسېدلی چې د اسلام ملاتړ وکړئ او خلافت تاسیس کړئ، چې هغه ستاسو ځواک سره یو کوي او هغه ستاسو پوځونه د جهاد او ویاړ میدانونو ته رهنمایي کوي!؟ الاقصی نارې وهي، الاقصی د خلافت د تاسیسولو او د قدس د ازادولو لپاره غږ در باندې کوي.

دا له بیت المقدس څخه پر اسلامي امت او په پوځونو یې زموږ غږ دی، تر څو پاځي، د تکبیر په نارو ویلو سره د الاقصی سپېڅلي مسجد د ازادولو لپاره راټول شي. الاقصی دوی ته بلنه ورکوي او له امت څخه غواړي، چې خپلې نارې جگې کړي، په پوځونو کې د خپلو زامنو څخه غوښتنه وکړي چې بیت المقدس ازاد کړي او لاسپوڅي دسیسه جوړونکي حاکم له صحنې څخه وشړي. موږ پوځونو ته بلنه ورکوو، تر څو له دوی څخه داسې یو رهبر

راپورته شي لکه صلاح الدين. موږ پر پوځونو غږ کوو، چې له دوی څخه داسې کسان را پورته شي چې هغه الله سبحانه وتعالی او رسول الله  صلی الله علیه وسلم ته نصرت ورکړي. حزب التحریر ته نصرت ورکړی چې امت د خلافت په تاسیسولو سره وپاځوي، امت سره یو ځای کړي، د فلسطین او ټولې اسلامي نړۍ د ملاتړ او ازادولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

**موږ په دې سپېڅلې خاوره کې خلکو ته خطاب کوو:**

 صبر او زغم ولرئ، استقامت وکړئ، ظالمانو ته مه تسلیمېږئ، د هغو خاینانو پیروي مه کوئ چې دسیسه جوړونکو رژیمونو ته تسلیمېږي. الله سبحانه وتعالی به ښه بدله درکړي. اې د بیت المقدس خلکو! تاسو داسې زړورتیا وښودله چې تر اوسه هېچا نه وه ښودلې. خپل امت او پوځ ته سترګې په لاره اوسئ. خپله حوصله له لاسه مه ورکوئ، د دوی رابللو ته دوام ورکړئ. دوی ستاسو کورنۍ، هیله او ملاتړي دي، په اسلام منګولې ولګوئ او په الله سبحانه وتعالی مو باور پیاوړی کړئ. الله سبحانه وتعالی به ژر تر ژره بری در په برخه کړي، ان شاء الله.

**﴿إِنْ يَنْصُرْكُمُ اللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ وَإِنْ يَخْذُلْكُمْ فَمَنْ ذَا الَّذِي يَنْصُرُكُمْ مِنْ بَعْدِهِ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ﴾**
**(عمران:١٦٠)**

*که الله سبحانه وتعالی مو مرستندوی وي، نو هېڅ قوت در باندې برلاسی کېدی نه شي؛ که هغه تاسې پرېږدي، نو بیا له الله سبحانه وتعالی وروسته څوک ستاسې مرسته کوونکی کېدی شي؟ نو څوک چې رښتیني مومنان دي، هغوی دې یوازې پر الله سبحانه وتعالی توکل وکړي.*

اې الله سبحانه وتعالی که دغه بلنه په اسلامی هېوادونوو کې زموږ ورونو ته رسېدلې وي، نو اې الله زړونه یې پرانیزه چې ستا د دین ملاتړ وکړي... اې الله د دوی عزم قوی کړې چې ستا دین حاکم کړي... اې الله موږ د الاقصي په میدانونو کې د تکبیر په نارو او ستا په دغو آیتونو  ویلو سره متحد کړه:

**﴿وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا﴾  (اسراء: ٨١)**

*ووایه حق راغی او باطل له منځه لاړ، بېشکه چې باید باطل له منځه ځي.*

**وَسَيَعْلَمُ الْكُفَّارُ لِمَنْ عُقْبَى الدَّارِ(اسرا:٨١)**

*او دغه د حق منګران به ډېر ژر وپوهېږي چې عاقبت د چا په ګټه تمامیږي.*

**حزب التحریر- ولایه فلسطین**

**۱۴۳۸هـ.ق، د شوال ۲۷ مه**

۲۰۱۷م، د جولای ۲۱ مه، د جمعې ورځ